د خیاطی اصول

FBH TAILORING SYSTEM

لیکوال

ابن حسن FBH حکیمی

بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

📘 د خياط او شاګرد ترمنځ د سالمې روزنې اصول:

۱. احترام او متقابل ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library

.خیاط باید شاګرد ته د یو زده کوونکي په سترګه وګوري، نه د خدمتګار په توګه

.شاګرد هم باید د خیاط درناوی وکړي او له هغه نه په ادب او تواضع سره زده کړه وکړي

۲. د ښوونې واضح هدف

.خیاط باید شاګرد ته واضحه کړي چې روزنه څه ډول ده، څه به زده کوي، او کوم مهارتونه به تر پایه ولري

.دا به دواړو ته د مسؤلیت احساس ورکړي

۳. مرحله‌واري زده کړه

.زده کړه باید له اساسي کارونو (لکه اندازه اخیستل، پیټرن جوړول، ګنډل،...) څخه پیل شي

.شاګرد ته باید هره مرحله ښه ور زده شي مخکې له دې چې بله مرحله پیل شي

،صبر او زغم .

.خیاط باید زغم ولري، ځکه شاګرد ممکن تېروتنې وکړي یا ورو زده کوي

.شاګرد هم باید حوصله ولري او چټک نتیجې تمه نه لري

۵. عملي تمرین

.خیاط باید شاګرد ته یوازې خبرې ونه کړي، بلکې هغه ته عملي تمرین ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

.لکه: خط کش کول، ټوکر پرې کول، ماشین چلول، کاغذي نقشه جوړول،... دا ټول باید تمرین شي

٦. د وسایلو ساتنه او مسؤلیت

.شاګرد باید زده کړي چې د وسایلو (قیچي، متر، ماشین،...) ارزښت وپېژني او سم یې وساتي

.خیاط باید دا اصل ور وښيي، چې خیاطي فقط ګنډل نه، بلکې نظم هم دی

٧ . د وخت درناوی

.خیاط باید شاګرد ته په ټاکلي وخت کې کار او درس ورکړي

.شاګرد هم باید پابند وي، بې وخته نه راځي او نه ځي

٨. اخلاق او سلوک

.بد خبرې، سپکاوی، یا وهلو ټکولو ته ځای نه شته

.روزنه باید د اخلاقو، درناوي، او انسانیت له مخې وي

٩. تدریجي مسؤلیت ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library

.خیاط باید شاګرد ته ورو ورو مسؤلیت ورکړي: مثلاً لومړی پرې کول، بیا ګنډل، بیا بشپړ لباس جوړول

.دا به د شاګرد اعتماد لوړ کړي

۱۰ . ارزونه او تشویق

.خیاط باید د شاګرد پرمختګ وځاري او وخت پر وخت یې وستايي

.که چیرې تېروتنه کوي، باید اصلاح شي، نه دا چې مایوس شي

---

که دا اصول عملي شي، نه یوازې به شاګرد ښه خیاط جوړ شي، بلکې یو ښه انسان، منظم

کارکوونکی او مسؤل فرد به هم وي.

۱۱. زده کړې ته ژمنتیا

.شاګرد باید د زده کړې لپاره مینه، علاقه، او ژمنتیا ولري

.باید پوه وي چې خیاطي یو هنر دی او وخت، تمرین، او حوصله غواړي

۱۲. د هر کار ارزښت زده کول

.شاګرد باید درک کړي چې هر کوچنی کار (لکه د ماشین پاکول، پرې کول، متر نیول...) مهم دی

.هېڅ کار باید بې‌ارزښته ونه ګڼي

۱۳ . په تېروتنه کې زده کړه

.تېروتنه کول یوه طبیعي برخه ده؛ مهمه دا ده چې ترې زده کړه وشي

.باید له خپلو تېروتنو ډار ونه لري، بلکې اصلاح یې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱٤.  د پوښتني جرئت

.که څه نه پوهېږي، باید له خیاط څخه یې وپوښتي

.شرم نه دی، بلکې د زده کړې برخه ده

۱۵. نظافت او پاک لباس

شاګرد باید خپل لباس پاک وساتي او خپل

.شخصي نظافت ته پام وکړي

دا د خیاطي چاپېریال ته هم احترام ګڼل کېږي

۱٦. د نورو شاګردانو سره ښه برخورد

.باید له نورو زده‌کوونکو سره مرسته وکړي، حسادت ونه کړي

.یو بل ته درناوی، همکاري او ملګرتیا مهمه ده

۱۷ . د شخصي وسایلو جوړول

.شاګرد باید خپل متر، قینچي، ستنه او نور وسایل ولري

.دا به هغه ته د مسلکي کیدو احساس ورکړي

۱۸. د مشتریانو درناوی زده کول

.باید له خیاط څخه زده کړي چې له مشتریانو سره څنګه خبرې کوي، اندازه اخلي، او د هغوی غوښتنې ته څنګه پاملرنه کوي

۱۹. د وخت تنظیم

.باید وخت ته ارزښت ورکړي: هم د راتګ او هم د کار ختمېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

.که کار پاتې وي، باید دا تعهد ولري چې بېرته راشي او بشپړ یې کړي

۲۰ خپل پرمختګ تعقیبول.

.شاګرد باید خپل پرمختګ وښاري: څه زده کړي، څه نه دي زده، او څه باید نور تمرین کړي

.کولی شي یو یادابښت کتابچه ولري چې خپل زده شي شیان پکې ولیکي

– یادونه: یو ښه شاګرد د خپل چلند، اخلاقو، مسؤلیت‌پالنې، او تمرین له مخې پېژندل کېږي

.نه یوازې د ګنډلو له مهارته

دا هم باید زده کړي چي اسانی درته وشي

هرکله چي عملي خیاطي کوي نو باید دا زده کړي

۱. رخت چي کله قیچي کوي نو باید دوه انچه اضافي ونیسي مثلا ۲۲انچه د یو جوړي فراخوالي ده نو ته به۲٤ نیسي هم دا شان اوږد والی کي هم دا باید یاد ولرئ چي دا هغه وخت چي

کله کمیس یا پرتوګ له نور رخت نه را بیلوي

خو کله چي بیا کمیس ګنډلو ته تیاروي نو چهار کونجه لمن دپاره به½ 1 انچ اضافي او ګول لمن دپاره 1انچ اوږدوالي کی

او فراخوالی کي چي ډبل پرته وي نیم انچ چي

دواړه خواؤ کي 1انچ ته ځان رسوي

۲. کله چی قؤل اخلي نو مخکیني لمن به نیم انچ د پاس خوا نه قول کي کم اخلي تر څو جوړه چوسته وي

۳. غاړه او د مخکیني لمن قؤل مائل یو انداز وي تر څو جوړه د وجود سره هواره شي

٤. د مشرانو قؤل باید له ۸نه تر½ ۸ انچه وي نو بیا د سړی اندازي ته ګوره

۵. دکمه پټي باید مشرانو لپاره له ۱۳نه تر ۱٤ انچه راشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦. د کف لستوڼی یو انچ اول نه کم اخستل او بیا یو انچ د برش وخت کی ځکه چی دا اندازه د کف بکرم سره پوره کیږی. او پلنوالی کي نیم انچ اضافي نیول

٧. د قاسمي غاړي لپاره اندازه نیولو وخت کی

چي کټ کوي یی 1 انچ دځان یا قول طرف ته کټ کول

٨ . د جال لستوڼی لپاره 4½

بره کټ کول تر څو جال سم ځای کی راشي

٩. دسنګل کورتی لپاره یو نیم انچ اضافه کول

او ډبل کورته یا الفجر لپاره ٣ انچه اضافه کول

١٠ د سر جب 4.5 پلندر 5.5 اوږد

مخامخ جب د ناپ ځای نه ٨نه ٩ انچه پوري لاندي لرول 1.5 نه تر 2 انچه پوري د کاج پټي نه لري

لرول

١١. ساده پرتوګ باید له ګنډلو وروسته چهار کونجه راشي

١٢ د خښتګ اندازه د مشرانو لپاره باید 18 نه تر 18.5 انچه پوري وی

١٣. ساده پرتوګ پلنوالی کي 2 او دري درزه 4 اضافه کول

١٤. استرداد پرتوګ ٣ انچه او بی استر 1.5 انچه اضافه کول

١٥. کله چی پر توګ در درزه و رخت به سنګل واچوي او بیا به یی په اوږدو قات کره او کمیس به واخلي او اضافي برخی

څخه اول لستوڼی او بیا د پرتوګ پلنی تاګانی واخلی اونور خرچه به له اضافي رخت نه واخلي

١٦ د ساده پرتوګ د له اضافه ټوټی به اول د بغل

جیبونه او بیا شانه واخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

که شانه نه راتله نو جیبونه تري واخله

۱۷. کاج پټي  د مشرانو لپاره دیارلسو نه ترڅوارلسو انچو پوري وی  او نورو لپاره خپلي اندازي ته ګوره

۱۸. نیمه بن غاره پوره او ساده بن یوانچ اضافه نیسه

والسلام

لیکوال

ابن حسنFBHحکیمی

د ګران او محترم استاد حمیدالله احمدی په همکارئ

د اړیکی شمېره

0767275601

fazalbarihakimi@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**